مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخږ ۲۰۲۲/۰۶/۱۹

# د ښځو لیک لوست په اسلام کې (د نجونو زده کړې)

(لسمه برخه)



(ابراهیمي ادیانو حجاب)

## چادري په ادیانو کې

په تېرو لیکنو کې د نجونو د زده کړو او حجاب په اړه مالومات وړاندې شول، غواړو په دې برخه کې په نورو ادیانو کې د حجاب په هکله لنډ مالومات وړاندې کړو چې وروسته به د یهودیت، عیسویت او د نورو اصلاحي ادیانو حجاب له اسلامي حجاب سره پرتله شي.

د اسلام له سپېڅلي دین وړاندې د نړۍ په ډېرو سیمو کې ښځو خپل مخونه پټول خو دا ډول حجاب په عامه توګه نه عملي کېده، یوازې د پاچاهانو او لوړ پوړو چارواکو د مېرمنو لپاره رامنځ ته شوی ؤ. «پارسي چارواکو ښځې تردې کچې تر فشار لاندې نیولي وې چې مېړوښو ښځو ته اجازه نه وه له خپلو خپلوانو سره مخ شي تر دې چې له خپلو پلرونو او ورونو سره یې هم نه شول لیدلی.» (ویل دورانت: تاریخ تمدن، لومړی ټوک ۳۰۶مخ)

د هندوانو په ټولو مذهبي کتابونو کې پرته له (بهاګاواد – ګیتا) کتاب ښځه ښځه محکومه او له ډول، ډول زوررونو سره مخ ده، د هندوانو ښځې د هغوی د دیني ښوونو له امله له داسې کړاوونو سره مخ وې چې کله به د ښځې مېړه مړ شو نو ښځې به له خپل مېړه سره خپل ځان ژوندی سوځولو چې دا ډول عمل ته (ستي) یا (ساتي) وایي.»په لومړیو کې د دغه ناوړه دود د درولو په موخه د هندوستان مغل پاچا اکبر (مغل اعظم) کوښښ وکړ خو وروسته د انګرېزانو د واکمنۍ پر مهال راجا رام موهن رای چې د اسلام او مسیحیت تر اغېز لاندې راغلی ؤ، انګرېزان وهڅول چې د ستي دود مخنیوی وکړي چې په نتیجه کې د ستي پر دود بندیز ولګول شو.» (جواهر لال نهرو: کشف هند، ۲ ټوک، ۵۲۳مخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سره له دې چې د هندوانو د دیني ښوونو له امله ښځه مظلومه او د مرګ تر پولې رسول شوې ده خو د حجاب په برخه کې خپل سنتي او دیني کالي اغوندي چې مخ، ملا، لاسونه او پښې یې څرګندې او سر، سینه او له ملا ښکته تر پښو پورې پټه وي.

دا شان د چینایانو د کنفوسیوس په دین کې ښځه که د پلار په کور کې وي یا د مېړه په کور کې، باید له سړي څخه په کامله توګه متابعت وکړي.

د جاپانیانو په ټولنه کې پلار واکي ده چې کړنې او تصامیم د سړیو له خوا ترسره کیږي او ښځه د چینایي ښځو په څېر له سړیو اطاعت کوي، جاپانی ښځې اوس مهال هم د سړیو په برلاسي منلي ده، د جاپاني ښځو حجاب هماغه دودیز کالي دي چې د (کیمون) په نوم یادیږي چې پرته له سر، مخ، لاسونو او پښو څخه ټوله په کې پټه وي.

د عیسوي دین ډېرى لارویان (د پروتستانو مذهب) منونکي د یهودانو په دیني کتابونو ایمان لري خو موږ یوازې د عیسویانو له دیني منابعو (د پولوس له رسالې، د کورنتیانو ۱ باب، ۱۱مه برخه، ۵-۶ جز) څخه د حجاب په اړه لنډ مالومات راخلو.

د عیسویانو په دیني کتابونو کې د چادرى څرک نه لیدل کیږي، یوازې ښځو ته د عبادت پر مهال د سرپټولو جدي ښوونې شوې دي چې په لږ تفصیل سره یې رانقلوو:«کومه ښځه چې سرتوره دُعا کوي هغه خپله بې عزتي کوي، ځکه چې هغه د سر خرییلي په شان ده. که ښځه لوپټه نه په سرکوي نو وېښته دې هم پرې کړي، که دې ښځې لپاره وېښته پریکول او سر خرییل د شرم خبره وي نو لوپټه دې په سر کوي.»

د یهودو په دیني منابعو کې د چادرۍ په اړه د بېلابېلا پېښو په هکله مالومات راغلي دي چې په دې تړاؤ د یهودانو د کتابونو په استناد د څو پېښو په اړه مالومات وړاندې کوو، سره له دې چې موږ د یهودو په تحریف شویو کتابونو باندې باور نه لرو خو دا چې د اسرایلو لپاره خپل کتابونه د باور وړ او سپېڅلي دي نو څه چې دوى په خپلو کتابونو کې لیکلي دي موږ یې کټ مټ رانقلوو او هېڅ ډول کمی او زیاتی نه په کې کوو: وایي چې ربکا نومي یهوده جینۍ چې اسحاق ته د واده په موخه په اوښ باندې وروړل کېدله نو کله چې هغې په دښته کې اسحاق ولید نو له اوښ څخه ښکته شوه او له خپل راتلونکي مېړه څخه یې په چادرۍ باندې مخ پټ کړ، په دې هکله د (تورات د پیدایښت په کتاب ۲۴ فصل،۶۳-۶۴-۶۵ آیتونه) کې راغلي دي: «... یوه ورځ مازدیګر مهال [اسحاق] په دښته کې ګرځېده او په فکر کې ډوب ؤ، خپل سر یې پورته کړ ویې لیدل چې اوښان رادرومي. ربکا [نومي جلکۍ] د اسحاق په لیدلو سره ژر له اوښه راکوزه شوه، له خپل خادم یې وپوښتل چې هغه سړی څوک دی چې زموږ هرکلي ته راځي؟ هغه ځواب ورکړ: اسحاق زما د مالک [ابراهیم] زوی، د دې خبرې په اوریدلو سره ربکا په چادرۍ کې خپل مخ پټ کړ.»

کله چې د یهودو د کورنیو غړي وژل شوي دي یا یې په جګړو کې ماتې خوړلې دي یا له کوم بل ډول سختیو سره مخ شوي دي نو د وېر د ښکاره کولو په موخه «خپل کالي څیرې کوي، ځانونه وهي، په لوړ آواز ژړي، خپل وېښتان شکوي، په خپلو سرونو خاورې بادوي، تور سرونه او لوڅې پښې درومي. سربېره پردې د ماتم له امله خپل مخونه پټول.» د یهودو د دیني منابعو پر استناد، دا ډول کړنې نه یوازې عامو یهودو ترسره کولې بلکې د دوى پیغمبرانو او پاچاهانو هم ترسره کړې دي، د ماتم پر مهال د مخ پټولو یادونه د (حزقیال کتاب ۲۴ فصل، ۲۲ آیت) کې راغلي ده.

یو بله ناوړه او شرموونکي پېښه چې د چادرۍ د اغوستلو له امله په اسرایلو کې رامنځ ته شوې ده هغه د خپل خسر له لخوا له خپلې نګور سره د زنا کولو عمل دی چې د (تورات د پیدایښت په کتاب، ۳۸ فصل، ۱۲ تر ۲۶ آیت پورې) کې د نوموړي پېښې څرنګوالی بیان شوی دی:

«... څه موده وروسته د (یهودا) ښځه مړه شوه، کله چې د غمرازی ورځې تېرې شوې، یهودا له خپل ملګري (حیره عدولامي) سره د مېږو د وړیو د ټولولو د نظارت په موخه (تمنه) [سیمې] ته ولاړ. [د یهودا کونډې نګور] (تامار) ته یې خبر ورکړ چې خسر یې د وړیو ټولو په موخه د تمنه [سیمې] ته حرکت کړی دی.

تامار خپل د کونډیژون کالي له ځانه وایستل، د دې لپاره چې ونه پېژندل شي چادري یې پرسر کړه او د تمنه د لاره پر سر، د (عینایم) دروازې سره نږدې کېناسته، [تامار] ولیدل چې [د هغې وړکی لېور] (شیله) لوی شوی دی خو [د هغې خسر نه غواړي] هغه ته یې په نوم کړي.

یهودا هغه ولیدله، خو دا چې هغې خپل مخ پټ کړی ؤ ویې نه پېژندله، فکر یې وکړ چې بدکاره ښځه ده. نو د سړک غاړې ته ورنږدې شو، (له دې ناخبر چې خپله نګور یې ده) له هغې یې د یو ځای کیدو [زنا] غوښتنه وکړه، تامار وویل:«څه غواړې ماته راکړې؟»

یهودا وویل:«یو وزګوری به له خپلې رمې درته راولېږم.»

ښځې وویل:«دا چې زه ډاډمنه شم وزګوری رالېږې د ګروی په توګه څه ځیز راکړه.»

یهودا وویل:«څه ځیز ستا سره ګروي کېږدم؟»

ښځې وویل:«خپل مُهر او امسا (عصا)»

یهودا هغه [توکي] ورکړل او له هغې سره یو ځای شو چې په نتیجه کې تامار دوه ځانه (حامِله) شوه. وروسته له دې پېښې تامار ولاړه او د کونډیتوب کالي یې بیا واغوستل. یهودا خپل ملګري، حیره عدولامي ته وزګوړی ورکړ چې ښځې ته یې وسپاري او [د یهودا] ګروي ځیزونه ترې واخلي خو حیره هغه ښځه ونه موندله. له ځایي خلکو یې وپوښتل: هغه بدکاره ښځه چې د دروازې سره ناسته وه څه شوه؟ هغو ځواب ورکړ چې موږ دا ډول ښځه نه ده لیدلې.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

حیره یهودا ته ورغی ویې وویل چې هغه [ښځه] یې ونه موندله او ځایي خلکو هم وویل چې دا ډول ښځه یې نه ده لیدلې.
یهودا وویل:«پرېږده هغه څیزونه د هغې وي هسې نه چې رسوا شو، په هر حال ما خو وزګوړی هغې ته ولېږه خو تا ونه شول کړی هغه ومومې.
وروسته له درو میاشتو یې یهودا ته خبر ورکړ چې تامار، نګور یې زنا کړې ده او حامله شوې ده، یهودا وویل:«هغه بهر راولئ ویې سوزوئ» په داسې حال کې چې تامار یې د وژلو په موخه بهر ته روانه کړې وه، خپل خسر ته یې پیغام ولېږه:«هغه سړی چې د دغه مُهر او امسا څښتن دی، هغه زما د بچي پلار دی آیا هغه پېژنې؟»
یهودا مُهر او امسا وپېژندل ویې ویل:«هغه مقصره نه ده، ځکه چې ما په خپله ژمنه وفا ونه کړه چې هغه مې خپل زوی شیله ته په نوم کړې وای.»
په تورات کې د مخ پټولو د پورته یادونو پر بنسټ د یهودو خاخامانو اسرائیلي ښځو ته د حجاب حدود ټاکلي دي چې تفصیل ته یې اړتیا نه شته.

نېټه: ۱۴۰۱/۳/۲۸ل. ل
نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ